# د هغو پناه غوښتوونکو لپاره انتظار د مودې په اړه معلومات چې ناروې ته پرته له مور او پلار څخه راغلي دي او عمرونه یې له اتلسو کالو ټیټ دي

## اوسمهال د کډوالو د چارو اداره (UDI) له کومو کسانو سره مرکه ترسره کوي او کوم کسان به ځوابونه ترلاسه کړي؟

د نومبر، دسمبر او جنوري په میاشتو کې به:

- له ډیری هغو کسانو سره مرکه ترسره کړو چې په ۲۰۲۳ کال کې یې د پناه غوښتنه کړې ده. د روان کال تر پایه به ټولو پناه غوښتونکو ته د مرکې لپاره یوه ټاکلې نېټه ورکړل شي، خو ښایي ځینې مرکې د راتلونکي کال د جنوري په میاشت کې ترسره شي.
- ډیری هغو کسانو ته به ځوابونه ورکړو چې مرکې یې ترسره شوي دي. مونږ ټولو هغو کسانو ته ځواب نشو ورکولای چې په ۲۰۲۳ کال کې راغلي دي، خو هغو کسانو ته به لومړیتوب ورکړو چې ډېر وخت یې انتظار ویستلی دی.
- له هغو کسانو سره به مرکه ترسره او ځوابونه به ورکړل شي چې زمونږ په آند زیانمنونکي دي. په دې کې کیدای هغه کسان هم شامل وي چې په ۲۰۲۴ کال کې یې د پناه غوښتنه کړې ده.

## ولې ځیني کسان له ما څخه مخکې ځواب ترلاسه کوي؟

لومړی هغو کسانو ته ځواب ورکول کیږي چې ډیر وخت یې انتظار کړی وي. د ځینو کسانو قضیې او له هغوی سره مرکه ترسره کول زیات وخت نیسي. که چیری تاسو باید د نورو کسانو په پرتله زیات وخت انتظار وکړئ، دا په دې معنی نه ده چې مونږ ستاسو قضیه هیره کړې ده.  لاندې ځیني لاملونه دي چې ولې د ځینېو قضیو څېړل زیات وخت نیسي:

- که له مرکې وروسته ستاسو د قضیې په تړاو لا زیاتو څېړنو ته اړتیا وي، کیدای شي ځواب په ځنډ ترلاسه کړئ.
- که د کډوالو د چارو اداره (UDI) د دې ارزونه کوي چې ستاسو قضیه دې د دوبلین تړون په یو بل غړي هېواد کې وڅېړل شي، نو دا کار وخت ونیسي. په دې حالت کې ښایي تاسو د نورو په پرتله د مرکې لپاره زیات وخت انتظار وباسئ.

که چیرې له تاسو سره د نورو دلایلو له کبله مرکه نه وي شوي یا مو ځواب نه وي ترلاسه کړی، وکیل ته به مو د ځنډ په اړه خبر ورکړل شي.

مونږ پوهېږو چې د اوږدې مودې انتظار کول ستونزمن دي؛ له همدې امله زیار باسو چې د پناه غوښتنې ټول غوښتنلیکونه ژر تر ژره وڅېړو.

تاسو اړتیا نلرئ چې د کډوالو د چارو له ادارې سره په دې هکله اړیکه ونیسئ چې قضیه مو څېړل شوې ده او که نه. مونږ ځواب ستاسو وکیل ته استوو.

## ایا زه داسې کوم څه کولای شم چې د انتظار موده لنډه شي؟

تاسو کولای شئ د خپل هویت اسناد ژر تر ژره مونږ ته راوسپارئ.

- که د هویت اصلي اسناد لرئ، باید د خپلې سیمې پولیسو ته یې وسپارئ. د اسنادو په سپارلو کې له خپل سرپرست څخه د مرستې غوښتنه کولای شئ.
- که د اسنادو فوتوکاپي یا عکسونه لرئ، مرکې ته یې له ځانه سره راوړئ او یا یې د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته په لاندې پته واستوئ:
  Utlendingsdirektoratet (UDI), Postboks 2098 Vika, 0125 Oslo
  په اسنادو کې د دوف (DUF) شمېره لیکل مه هېروئ. ستاسو سرپرست به په دې کار کې له تاسو سره مرسته وکړي.

## د معلوماتو **تازه کول**

د انتظار د مودې په اړه معلومات د ۲۰۲۴ کال د نومبر په ۱۵ مه نېټه تازه شوي دي.

یاد معلومات به د ۲۰۲۵ کال د فبروري په لومړۍ نېټه او یا هغه مهال تازه شي چې د پام وړ بدلونونه پکې راشي.